په آلمان کې د ژوند کولو مفهوم دی: نارینه او ښځې سره مساوي دي.

آلمان داسې یو هیواد دی چې خپلې خپلواکۍ او خپلو قوانینو ته ارزښت ورکوي. دغه قوانین په نارینه و او ښځو یو شان په مسلکي ، ازدواجي، شراکت او کورنۍ چارو کې پلي کیږي. د نارینه و او ښځو لپاره مساوي حقونو اهمیت باندې تاکید لپاره موږ زموږ د خورا ژور قانون بشپړه دریمه برخه – د آلمان اساسي قانون دوی ته مختص کړی دی. دولت دې ته پاملرنه کوي چې هرڅوک په ورځني ژوند کې دغه مساوات په پام کې ونیسي. لکه د ټولو نارینه و په څیر ، ټولې ښځې حق لري ښوونځي ته ولاړې شي ، یو مسلک زده کړي او کار وکړي. له همدې کبله موږ په آلمان کې ښځینه سیاستوالې، کار ګومارونکې ، ډاکټرانې ، ښوونکې ، پولیس افسرانې، قاضیانې، او څارنوالانې، لرو .په ورته ډول لکه چې مو ښځینه رنځورپالانې، د لومړني ښوونځي ښوونکې، د بسونو ډرایورانې، او د پیرود ښځینه نفر لرو. هیڅ اهمیت نلري چې یوه ښځه یوازې ده ، ملګری لري یا واده شوې. که هغه مشروع یا غیر مشروع ماشوم ولري هیڅ اهمیت نلري: هغه هغومره د درناوي وړه ده چې یو نارینه وي.

دواړه زموږ د کورنۍ قانون او دولتي قوانین د مساوي حقونو تضمین وړاندې کوي. په آلمان کې ښځې پخپله پریکړه کوي چې د چا سره واده وکړي او دا پریکړه هم پخپله کوي چې واده وکړي یا نه. په آلمان کې یوازې هغه واده قانوني اعتبار لري چې د واده رسمي ثبت کونکي لخوا ثبت شوی وي. یوازې دغه ډول قانوني واده کې – د کلیسا، مذهبي او خصوصي ودونو برخلاف – ډیری حقونه شامل وي. ګډه سرپرستي د شریکو ماشومانو لپاره پلي کیږي. پدې معنې چې د مهمو مسلو په اړه باید د دواړه والدین (مور او پلار) لخوا پریکړه وشي. البته، د واده په جریان کې د کار ته د ښځې ورتګ حق پرځای وي. یوه ښځه چې پخپلو شخصي پیسو هرڅه اخلي هغه یوازې پریکړه کولی شي. په آلمان کې چې کومې ښځې د ګواښ احساس کوي یا د واده او یا کورنۍ ستونزې ولري یولړ مرستندویه برنامو ته ورتللی شي. پدغه ډول حالت کې، هغه کولی شي پولیسو یا د غیر دولتي مشورتي سازمانونو لکه د ښځو شیلټرو (پناه ځایونو) ته ورشي. ښځې او نارینه دواړه د طلاق اخیستو لپاره ورته واک لري که چیرې دوی پریکړه وکړي چې نور یې واده باید پای ته ورسول شي. په آلمان کې یوازې رسمي محکمې کولی شي قانوني طلاق ورکړي. دا ارزښتونه او آزادۍ دي چې موږ یې په آلمان کې لرو او هرڅوک یې باید په پام کې ونیسي.د آزاد او خوندي ژوند لپاره.

د نارینه و او ښځو مساواتو لپاره.

د باورین آیالت د عدلیه وزارت.  د خلکو لپاره عدالت.

